عبدالحکیم سامع ۲۰۱۲/۰۹/۳۰

# متمدن ویل او غیر متمدن عمل کول!

د محترم خواتی لیک ته یوه کتنه!

لمړی سلامونه او احترامات می ومنی. ستاسی د لیکنی استعداد او د غیر مستقیم د اشارو مهارت ته زه هیڅ کوم تردید نلرم. زه دیالوګ ته لیوال نه یم، او ستاسی د «متمدن» برداشت ته هم بنه یوه نسوم. ما تاسی ته په آخرنی لیکنی کښی خپل درک واضح کړی وو، چه زه د «فکټ» پر اساس لیکم. ما ته فرق نلری، چه دا «فکټ» د چا د خوا څخه ویل سوی وی. تاسی زما د هغو «تاریخی» «فکتونو» د تولولو په باب خپل نظر، د خپلی «پوهی» پر بنسټ به ویلی وی، چه ما ورسره مخالفت و نښود، خو می د «کرونولوژی» د یوی برخی په توګه وویل چه ګوندی د لوستلو وړ وی. زه ډیر تعجب کوم، چه تاسی تر ما زیات، د «موږ» کلمه د یوه واحد مفهوم په توګه یادوی. په دی کی شک نسته، چه دا کلمه، د «قبیلوی او قومی» ټولنی «تکیه» کلام دی. څکه هلته د اولیه کمون په شان، د وینی اړیکی او یو ډول مساوی خاص حقوق وجود درلودل. په متمدنه دنیا کښی یو«فرد» خپل مستقل شخصیت او حیثیت لری. د هغه قبیلی پخوانی «ساختار» اوس په بشپړه توګه وجود نلری، چه زه پکښی روزل سوی وم. زه اوس ، د «موږ» کلمه تر تاسو به لږ استعمالوم. د ټولنیز د مجموعی عمل، چه زما نقش پکښی نه وی، مسؤلیت یی هم په غاړه نسم اخستلای، بلکه د خپل عمل ځواب ته حاضر یم.

تاسی ما ته په خپل ځواب کښی محدودیتونه وضع کړی وه، او زه مو پدی مجرم ښودلی وم چه ولی د افغانی پوهانو څخه، نه یا دوم. دلته غواړم ستاسو د مقالی څخه را نقل کړم: « ... که چیري دافرادوپه اړوند دهغودکورنیوپر بنسټ قضاوت وشي خدای بخښلوافغان تاریخپوهانو (میرغلام محمدغبار، احمدعلی کهزاد ، عبدالحی حبیبي) او همدارازدهیوادزرګونودتاریخ درنو استادانوچي شاه شجاع یي دیوه ګوډاګي اوخاین په توګه ګڼلی دی ټولو ستره خطا کړي ده څکه شاه شجاع دستر احمدشاه بابا دادمعاصرافغانستان دبنسټ ایښودونکي، دهیواددربښتیني بچي اومنل شوي ملي مشر لمسی و۰...»

ما د یوه انسان د «کرامت» څخه یادونه کړی وه، نه د هغه دکړنی څخه، چه دلته زما او ستاسی ترمینځ دانسان په باب د تعریف فرق وجود لری. د یوه انسان «جرمی» عمل ته په حقوقی ـ سیاسی نظام کښی «مستقله محکمه» فیصله کولای سی. اما د انسان کرامت ته چه «دتعرض څخه مصؤن دی» دهر عادی انسان وظیفه ده. پدی کښی شک نسته چه سیاسی مخالفین، یو پربل باندی حملی کوی، او اعتراضونه لری. زه سیاسی نه یم. په منطق کی ځینی مفاهیم وجود لری، چه ورته «لازمی او کافی» شرط وایی. یعنی یوه جمله کیدای سی پر یوه خوا صدق و کړی او په بله خوا کی نه. یو سړی هغه وخت په یوه کورنی پوری مربوط ویلای سی، چه وی پیژنی. دا پیژندنه، د هغه اعمالو د دفاع د پاره «کافی» نده. او په پورتني جملو کښی هم راغلی. ما یی د عمل او مقام څخه دفاع نه وه کړی .

زه تاسی ته دا هم په ډاګه وایم، چه زه لکه تاسی غوندی د افغانی «تاریخپوهانو» ته مرید نه یم او پرستش ته یی هم حاضر نه یم، بلکه خپل قضاوت هم لرم. (اما د مثال په ډول، که د میرغلام محمدغبار، پخوانی وظیفه د اعلیحضرت امان الله خان د پولیس د آمر په توګه رښتیا وی، نو زه دده کتاب ته د «پولیسی راپور» په سترګه ګورم، نه ډیر د تاریخی کتاب په ډول د اهمیت وړ بولم. اوس را ته واضح کیږی، چه ولی په لازم ډول منابع ندی ذکر کړی. دلته د بحث ځای او وقت راته په اختیار کي نسته.). ستاسی نصیحتونه چه مو وزیری صاحب ته کړی، ما ته زمونږ د کلی هغه صحنی را په یادوی، چه زمونږ دقوم او کلی ملک به، په کلی د کلیوالو تر مینځ، به یی «شخړی» حلولی، او د قوم غړو ته به یی « د نا پوهانو او بیعقلانو په سترګه کتل » ستاسی د پورتنی نقل قول په اړه زه، دخپل دی مقالی ته:« مقایسهٔ احمد شاه مسعود و شاه شجاع در تاریخ افغانستان! » ستاسی توجه را جلبوم، چه هلته می یو جرأت کړی، چه یوه لنډه مقایسه ولیکم:

«... بتاریخ اول جنوری ۱۸۴۲، قوای انګلیسی که در مرکز جابجا شده بودند، سند تسلیمی را به امضاء رسانیدند. قوای نظامی، ۱۵۰۰۰ نفری انګلیس در مسیر راه برګشت و عقب نشینی، بسوی جلال آباد، تحت ضربات مدافعین افغانستان قرار ګرفت، که از جمله فقط «داکتر بریدن (Dr. Bryden)»، زنده به جلال آباد رسید. »

در نتیجهٔ قیام مردم ما و شکست افتضاح آمیز استعمار برتانیه، بزرګترین قدرت وقت جهانی، درماه اپریل ۱۸۴۲ «شجاع الملک خائن» به خاک و وطن، به جزای اعمال ننګین خود رسید و «کشته شد.» آیا شهید بود؟ تا امروزنام

اوبحیث لکۀ ننگ، باقي مانده است و تا وقتي تاریخ و افغانستان باشد، برای اعمال و نقش شاه شجاع توجه وتبرئه دیده نخواهد شد. او به نسبت عمل خود در تاریخ افغانستان منفورثبت گردید. او ادعای میراث «پادشاهی» مروج وقت را داشت، که شایستۀ آن نگردید. بد نامی او با ماقبل، یعنی پدر و پدر کلان ربطی ندارد. عظمت احمد شاه بابا، مؤسس دولت افغانستان او را نجات داده نتوانست...» وزیری صاحب چه ستاسی څخه په دری ژبه دفاع کړی، زه هیلمند یم، چه تاسی هم په «دری» ژبه پوهیږی. که وغواړی پاته برخه هم دلته لوستلای سی:

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/sami_a_h_moqayesae_ah_sh_masud_wa_shah_shoja.pdf

پدی پوه سی چه زه خپل مستقل نظر به تر مرګه پوری پر هری موضوع باندی چه می د فهم او درک توان وی، وساتم. زما او ستاسی تر مینځ د تصور او نظريي فرق سته، دا نه یوائې ما نه ځوروی، بلکه برخلاف، تر خپل هم نظر شخصیتونو په مقایسه، لا زیات ارزش ورکوم، چه د نظریو، تبادلي ته حاضر سم. خو د وزیری صاحب « د لوړ مقام خاوند» لیکنه، هم تر یوی اندازی پوری فضا بلي خوا ته یوړه، او زه یی ستاسو، «کنایو» ته متوجه کړم.

محترم خواتی!

زه د پخوانی استعمار او د هغوی جنایتونو ته او د هغی دوری خیری ته یی هغسی کتنه لرم، کوم چه د غربی نړی ځینی پوهان او انساندوستان، هم په خپله لیکلی. زه د «متمدنی» دنیا سره، د «آخوند درویزه» او یا د «حسین احمد»، «فضل رحمن»، «ګلبدین»، «ربانی» او «حقانی» او یا د «ملا عمر » او نور «افراطیون» په «چپ» او «راست» پوری تړلی او هم د «نژاد پرستو» ناسیونالیستانو په سترګه نه ګورم. د «صلیبی جنګونو» پر ضد هغه موضعګیری لرم، کوم چه د اوسنی متمدنی دنیا، دیموکراتان او حتی د «عیسوی مذهب» ځینی بشر دوست پیروان وربادی خپلی نیوکی کړی. زه د غربی نړی د دنیا او دهغوی د سیاست په باب د «مدافع وکیل» مقام نلرم او معاش هم نلرم، چه د کوم مدافع په توګه، ستاسی د موضعګیری په باب څه و وایم.
زما او ستاسی تر مینځ فرق دا دی چه زه، زه یم او تاسی، تاسی یاست. دوه مختلف انسانان یو، مختلف خصوصیات لرو. تاسی په «کنایو» خپل هدف سرته رسوی، لیکن زه چه تقریباً پنځوس کاله پخوا د یوی پښتنی کلی څخه بیل سوی یم، د پنځو لسیزو څخه وروسته، دی باور ته ورسیدم، چه د «موږ» د کلمی پر ځای، چه زما د کلی د خلګو عادت وو، په «زه» بدل کړم او «ځان»، خپل انفرادی مسؤلیت ته متوجه کړم. دا د متمدنی دنیا غوښتنه ده.

دا چه نه تاسی او نه وزیری صاحب را ته لیکلی، چه زما پر کومو کلماتو باندی اعتراض درلودل، نو زه مجبور یم چه د یوی اشاری په باب، چه ممکن تاسی ته عجیب ښکاره سوی وی، تماس و نیسم. حدس وهم، چه هغه به دا وه.«... زه پدی سختو شرایطو کښی او ستاسی د «کڅیفو اوبو» د پاشلو په باب چه ممکن وغواړی، مخ می را «چټل» کړی، فقط بیله «حوصلی» پرته، چاره نلرم او دبین المللی یو متل باندی، چه معنی یی ده:«سپی غاپی، کډی تیریږی» او یا «سپی غاپی، کاروان تیریږی.»، خپل داترخه شیبه ستاسو سره ختموم»

ګرانه وروره!

زمونږ تولنه کښی، «سپی» او «واړه» هغه موقف او د علاقي وړ ځای نلری، چه په متمدنه دنیا کښی مروج دی. دا پدی معنی چه په متمدنه دنیا کښی ورته د محبت څخه ډک کتل کیږی او حتی د «سپی» پر «مړی» یی خاوند ته «ژړا» ورځی. مړی ته یی په عزت د قبرځای په پیسو را نیسی، او ښخوی یی. دلته په هر ځای کښی، سپی سره خبری کیږی او دی «بی ژبی» پر سر او «څټ» باندی لاسونه تیروی، او د انسانی بدن د حرارت سره دا بی خوله حیوان شریک کوی. «زمونږ» په متمدنه تولنه کی«سپی» سره خبری نه کوی، بلکه ورته «چغه» وایی او په ډبرو یی وهی او یا د لرګو پذیریعه، وربادی ګذارونه کوی، او حتی وژنی یی. دا متل یو وخت تر دریش کاله د مخه په افغانستان کښی یو «دولتی رهبر»، یاده کړی وه. ده ته به ممکن د ده مخالفین په نظر کښی وه، لیکن زما دی تذکر ته تاسی په نظر کی نه واست، بلکه د عنوان د معنی سره می چه لیکلی وه: « د حقیقت د لاری په مبارزه کی، هر وخت یوائې یی!» مطابقت ورکړی وو او پدی توګه می ځانته د تنهایی تسلی ورکړی وه. تاسی یو بل ځای کښی هم ویلی وه: «... البته زه یوازینۍ څوک نه یم چې ددې واکمنۍ دمنفي اړخونو په اړه خپل نظروړاندې کوم بلکې ډیری افغانان اود افغان جرمن آنلاین غوڅ اکثریت لیکوالان زما په شان فکرکوي اویوازې ښاغلی سامع اوښاغلی نعیم بارزدهیوادننې مشرتابه په دفاع کې ولاړدي٠»

حقیقت داسی نده. زه نه غواړم، چه دکومی ډلی، د انتقادونو سره ځان «ګډ» کړم. ما دچا معاش ندی اخستی، چه دده پدفاع باندی ولیکم. زما دا لاندی مقاله یو ځل که غواړی ولولی، بیا به وپوهیږی چه زه هم خپلی نیوکی لرم. اوهمدا رنګه ددی مقالی څخه وپوهیږی چه زه انتقاد، دخپل فهم او پوهی په چوکاټ کی تر سره کوم، نه د بل چا په هدایت.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

http://www.afghan-german.net/upload/Tahlilha_PDF/sami_a_h_pakistan_saheb_bam_atom.pdf

د محترم وزيری نيوکی، د متمدنی دنيا د معمول پر اساس نه، بلکه د «فيودالی» او «قبيلوی» غرور ځخه سر چينه اخلی او د «اخلاقياتو» د معلم مقام ځانته نيولی، چه زه په دی عمر کښی هم نه يم، چه دده شاگرد سم. هر څوک بايد خيل حد او حدود، په خيله و پيژنی.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ